AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۴/۰۸/۱۸

# ډوبېدونکي نسلونه

## د نجونو د ترلو ښوونځیو دریمه کلیزه

زړه مې نري درزونه وکړل
چې ښوونځي ته یې بیا واچول کلپونه

ټول نړیوال ورته حیران دی
چې طالب جان به مکتب ولي بندوینه




دا دی دري کاله پوره شول چې په افغانستان کې د نجونو منځني ښوونځی ترل شوي دي او واکداران په ناموجه دلایلو سره افغانان او نړیوال تېرباسي.

د طالبانو د دویم حاکمیت د دریمي کلیزې پر مهال یونسکو بیاځلي پر نړیوالو غږ کړی دی

چې: «طالبانو قصداً یو اعشاریه څلور میلیونه نجوني له زدکړو راګرځولي دي.»
د یونسکو په نویو څرګندونو کې ویل شوي دي چې په دومره لوی شمېر سره نجوني له زدکړو محرومول به ډېرې ناوړه پایلې ولري. په همدې باب د بي‌بي‌سي په یوه تازه رپوټ کې دا ترخه حقایق په نښه شوي دي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

«یونسکو له زدکړو د دومره لوی شمېر ماشومانو د محرومیت د ناوړه پایلو په اړه خبرداری ورکړی او مشرې یې پر نړیوالې ټولنې غږ کړی چې پوهنتونونو او ښوونځیو کې افغان نجونو ته د زدکړې حق تر لاسه کولو لپاره یو موټې شي.

یونسکو ویلي له کله چې طالبان په افغانستان کې واک ته رسېدلي، یو اعشاریه څلور میلیونه نجونې قصداً له منځنیو او ثانوي زدکړو منع شوې او یوازې تېر کال له ښوونځیو د محرومو شویو نجونو شمېر درې لکه زیات شوی دی. دا هغه نجونې دي چې سږ کال یې شپږم ټولګی بشپړ کړی دی.

یونسکو وایي که له دې سره هغه نجونې هم یو ځای شي چې د طالبانو له بندیز وړاندې له ښوونځي محرومې وې، نو په افغانستان کې له زدکړې د ټولو محرومو نجونو شمېر دوه نیم میلیونو ته رسیږي چې د ښوونځي د عمر نجونو اتیا سلنه برخه جوړوي.

د ملګرو ملتونو کلتوري اداري د طالبانو له واکمنی وړاندې په دوه لسیزو کې د زدکړې برخه کې پرمختګ ته په اشارې ویلي طالبانو په خپلو پریکړو سره دا پرمختګ له منځه یوړ او د یو نسل راتلونکی یې له خطر سره مخامخ کړی.

یونسکو وایي یوازې متوسطه او ثانوي زدکړې د طالبانو په راتګ سره نه دي اغیزمنې شوې بلکې لومړنی زدکړې هم اغیزمنې شوي دي.»

زه فکر کوم چې تر اوسه پورې د نجونو د ښوونځیو نه پرانستل، د افغانستان همدې او راتلونکو نسلونو ته او د نوي نسل د سمې ــ علمي روزنې پلویانو ته د خطر هغه زنګ دی چې که یې د حل له پاره جدي سوچ او کار ونه‌شی، د افغانستان دا نسل او راتلونکي نسلونه برباد وګنئ.

په داسې یوه وروسته پاتې ټولنه کې لکه افغانستان چې له یوه لوري اقتصادي ستونزو سره لاس‌ګرېوان وي، له بل پلوه ښوونځي ته د تګ هڅونه نه وي او لامخنیوی هم ورسره مل وي، بیا به د یوې ارامې ځونامې داسې ځېونکو څپو سره لاس ګرېوان کېږي چې د بربادی مخه یې هېڅ څوک نه شي نیولای او همدا اوس د دې ځونامي څپې محسوسې دي. دا یې د ځینو محسوسو څپو بېلګې دي:

ــ لومړنیو ښونځیو ته د شاملېدونکو په شمېر کې د پاملرنې وړ لږوالی راغلی دی،

ــ هغه کوچنیان چې باید ښوونځیو ته ولېږل شي، د شاقه کارونو دایرې ته ورپورې وهل شوي دي،

ــ تر ټولو خطرناکه معامله دا ده چې د کمسنه نجونو د ودولو په شمېر کې د پاملرنې وړ ډېروالی راغلی دی.

دا چې د نجونو د ښوونځیو د تړلو په پایله کې پر افغانانو او وطن باندې نور څه راتلونکي دي، د هغه په باب د نجونو د ښونځیو تړونکي او شوقیان یې لا فکر هم نه شي کولای.

نو که په جدي پاملرنې کار او مبارزې سره د دې ستونزو د حل له‌پاره لارې پیدا نه شي، یادې ستونزې نورې هم چاقېږي او داسې وخت راتلونکی دی لکه اتوم بم چې وکارول شي، هرڅه به په اور وسېځل شي او افغانانو ته به پرته له ایرو بل‌څه ورپاتې نه‌شي.

تر دې زیات د نجونو د منځیوښوونځیو تړلی حالت، د افغانستان له‌پاره او د افغانستان د خلکو له‌پاره د سرطان ښه غوره کوي او د سرطان ناروغی غم که په خپل وخت ونه خوړل شي، هر غښتلی وجود راځملولای شي.

له چیز فهمه خلکو او د نوي نسل د روزلو له پلویانو غوښتنه کوم چې غلي دې نه کېنېني او هرڅوک دې د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې د دې ستونزې د له‌منځه وړلو له‌پاره هلې‌ځلې وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ